پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۳/۲۳م



# داؤد خان ولی ووژل شو ؟

چې اغیارو ورته جګ کتلای نه شوه
نن د هغو غیرتونو جنازې دی
( غ. کامه وال )

د وروسته پاتو ټولنو له بی شمیره ناخوالو څخه یوه هم دا ده چې نه یوازی دخپلو رښتینو خدمتګارانو، پوهانو، هنرمندانو، وطن ته صادقو مشرانو، ملی شخصیتونو او نورو خواوږو



بچیانو دچوپړ درناوی دهغوی په ژوند کی نه کوی , بلکه اکثره وختونه یی دهلو ځلو په مخ کی خنډونه رامنځته کوی , ناوړه تورونه پری لګوی او زیات وختونه خولا داسی هم پیښ سویدی چې په فزیکی توګه یی له منځه وړی دی . له بده مرغه ددی ډول ناخوالو بیلګی زموږ د هیواد افغانستان په معاصر تاریخ کی هم په پوره پیمانه ترسترګو کیږی , چې دټولو یادول دلته ددی کرښو د توان نه دباندی بولم .

دهیواد ددغه ډول ملي خیرو له ډلې نه محمد داود خان تر ټولو په زړه پوری بیلګه ده چې ده او دده درنې کورنۍ ته منسوب هډوکی څه باندی دیرش کاله وروسته دپرتمینو مراسمو په ترڅ کی په۱۷ـ ۳ـ ۲۰۰۹ نیټه خاورته وسپارل شول . دی کار په هیواد دننه او بهر کی راز راز او تر ډیره حده متضاد غبرګونونه راوپارول . چا هغه یو زړه سواند اوپروطن مین مدبر ملې مشر وباله او چا هم دیوه ځان غوښتونکې دیکتاتور ټاپی پری ولګولې .

وړاندی لدی نه چې دده پرشخصیت باندی خبری وشی , زما په اند به ښه داوی چې دده کړه وړه د زمان په تله کی وتلل شی او د وخت دمنطقو سره سم قضاوت پری وشی :

## د داودخان سیاسی څیره :

دې دخپل سیاسی ژوند تر نژدی وروستیو کلنو پوری یو شوروې پلوی سیاستوال ګڼل کیدې . که دا خبره رښتیاوی نو داسوال رامخته کیږی چې ولی یومتدین مسلمان د سلطنتی کورنې پیاوړی او مقتدر غړی دسیاست په ډګر کی دیوه کمونیستې دولت پلوی کیږی چې درژیم منځپانګه یی دسلطنت سره بشپړ تضاد لری ؟


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

که دتاریخی پېښو شالید وګورو , معلومېږی چی دسردارمحمد هاشم خان دصدارت نژدی ټوله موده د سقاوۍ اړو دوړ , چور او چپاول وروسته دنظام په بیاجوړولو او دمرکزی واک په بیا ټینګولو کی تیره شوه . تر ده وروسته دسردار شاه محمود دصدارت پروخت چی سیاسی حالات تر کنترول لاندی راغلې وه نو دیوی مناسبې او معقولې دموکراسۍ په غیږ کی د اقتصادی پرمختیا او د اردو موډرنیزه کولو ته په ټینګه پام واړول شو . تر ټولو وړاندی دامریکا اولودیز سره پدی هکله اړیکی ونیولې شوی او دمرستو غوښتنو ته لاسونه اوږده شول . امریکا چی هغه وخت زموږ نامهربان او بدغوښتونکې ګاونډیان لکه ایران او پاکستان خپل نازولې بچیان ګڼل او خاطر رنجې یی ورته ګرانه ښکاریده , نو یی افغان دولت ته نه یوازی د دوستانه مرستو بلکه دمناسبو پورونو د ورکولو څخه هم په ډیری بی اعتناهۍ سره ډډه وکړه .

شوروی اتحاد چی حالات له نژدی نه څارل , کله چی یی دافغانی واکدارانو بیوسې او دامریکا لخوانه یی ددوی رد شوی خالې کچکول په سترګو ولید , نو یی دموقع نه دګټی پورته کولو په موخه دمرستو وړاندیز وکړ او دسخاوت دسترخان یی ورته اوږد وغوړاوه . دی مرستو په ځانګړی ډول د محمد داود خان دصدارت پرمهال په بیساری توګه پراختیا ومونده . پدی ډول شوروی اتحاد دافغانستان داقتصادی پرمختیا په ټولو څانګو او د اردو دجنګی وړتیا د لوړولو په چاروکی دپام وړ پانګه په کار واچول چی پربنسټ یی د کرهڼې او مالدارۍ , لارو او ډګرونو , کور جوړولو , بندونو او ویالو, اوبو لګولو اوبرق , دکانو تفحص او استخراج , ترانسپورټ , پتروشیمی صنایعو او نورو اړوندو برخو کی ددی هیواد انفراسترکچر پر بل مخ واوښت .

هغه دام چی مسکو پدی دسترخان کی ایښې وو , وروسته ټولې نړۍ ته څرګند شو . خو ددی حقیقت نه هم سترګی پټول ګران دی چی په ورته معاملو کی غواړی یا نغواړی , باید دمرستی کونکې هیواد و ګټو ته هم ترټاکلې حده غاړه کښیښودل شی . ددی ناخوالو سره نه یوازی افغانستان بلکه اکثره بیوسه هیوادونه مخامخ شوی , خو چی هرڅومره دسیاسی زعامت تدبر زیات وی , په هم هغه اندازه یی دناخوالو پایلو دردونه کم وی . په افغانستان کی له بده مرغه له داود نه وروسته هم داسی زعامت ته چانس ورنکړل شو چی افغانستان د کرملین له هغه دامه و ژغوری کوم چی امریکا او لودیز په لوی لاس ور ټیله کړی وو . پهر حال داود خان غوښته یا یی نه غوښته , نوموړې مجبوریت هغه وشوروی پلو سیاست ته اړ ایست چی دناوړو پایلو د زلزلې موجونه یی د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر په ۱۱ نیټه امریکا او ورسره سم ټوله نړۍ ولرزول . زما په اند دافغانستان اوسنۍ غمجن حالت او دطالبانو په مقابل کی د امریکا او بشپړ ناټو بیوسی , ددوی له هغی تیروتنی نه ریښی اخلې چی د سلطنتې کورنۍ غړۍ داود خان یی په خپلو لاسونو د کرملین د دام په لور تللو ته مجبور کړ .

همدغه مجبوریت د داود په سیاسی اندونو کی کیڼ لاسۍ تمایل و روزه . ښایی له همدی کبله وی چی داود خان د ۱۳۵۲ کال دچنګاښ تر کودتا وروسته دخلق دموکراتیک ګوند پر پرچمی اړخ باندی چی شورویانو ته ډیر ګران وو , تکیه وکړه او دکورنیو چارود وزارت دلاری یی دټول هیواد په کچه هغوی ته صلاحیت وسپاره او دسیاسی فعالیت لاره یی ورته پرانیستل . خو داچی پرچمې زعامت پدی مناسب حالت کی لازمه وړتیا ونه ښوده څو د وطن او دموکراتیک جنبش په ګټه تری کاروا‌خلې , دابیا جدا خبره ده .

د ۱۳۵٤ کال وروسته داود خان دخپلو یو شمیر پرچمی همکارانو په کړو وړو کی دمسکو ناوړی هیلې درک کړی او پدی لټه کی شو چی نور له هغوی نه ځان خلاص کړی . په همدی وخت کی داود خان دیوه عصری او سوکال افغانستان دجوړولو پلانونه ترلاس لاندی نیولې وه او دتمویل سرچینې یی ورته لټولې . ددی پلانونو په عملې کولوکی دشورویانو دپراخې ونډی اخیستلو یو لوی شرط دا وټاکل شو چی دیوه دموکراتیک جنبش په توګه په دولت کی دخلق دموکراتیک ګوند ( پرچمی اړخ ) پخوانۍ ونډه وساتل شی . دا شرط داود خان لکه څنګه چی پخپلی یوی ویناکی څرګنده کړه ، خپل ملی غرورته توهین وګاڼه اوسخت یی راوپاراوه . لدی نه یی وروسته یو ځل بیا وغرب او دهغوی وعربی انډیوالانو ته مخ واړاوه چی داځل یی دپام وړ مرستې ترلاسه او کرملین ته یی په یوه دراماتیک خوځښت سره شاوګرځول . اکثره څیړونکې د داود خان دا فوری او دراماتیک بدلون د داسی یوه دولت په مقابل کی لکه شوروی اتحاد چی تر اوسه یی لا دافغانستان پر اقتصادی او سیاسی ستنو باندی بشپړاغیز درلود , یوه سیاسی تیروتنه ګڼی . که څه هم پدی کارسره داود ځانته داقتصادی مرستو یوه سرچینه پلاس راوړه مګر په سیاسی ډګر کی بیا اوبه له ورخه تیری شوی وی . ددی حالت نه خلقیانو چی د ظاهرشاه په وخت کی یی له اردو څخه ځان لیری ساته , ګټه پورته او هلته یی په پراخ جلب او جذب لاس پوری کړ .

ځان غوښتنه او دچوکۍ سره مینه بیا هغه ناروغی ده چی ددغسی هیوادونو زمامداران په یوه یا بل شکل ټوله پری مصاب وو او دی . په افغانستان کی یوازی پښتانه واکمنان پدی ناروغۍ اخته نه وه , بلکه غیرپښتنې واکداران هم ددی ناروغۍ په بستر کی پراته وه او رنځ یی ګاله . دبیلګی په توګه همدغه دچوکۍ سره مینه او عاشقې وه چی ببرک کارمل دومره سترتاریخی مسئولیت ته غاړه کښیښوده او استاد ربانې ددغی معشوقی پرسر دهیواد دټولو قومونوسره جګړې کولې , هیواد یی لوټې لوټې , په سلګونو زره بیګناه هیوادوال یی یه وینو کی ولمبول اود چوکۍ دغه ښکلې پیغله یی د خواجه بهاوالدین نه تر کولابه پوری په غیږ کی نیولې ګرځول . د بده مرغه داودخان هم لدی



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مرض نه په امان نه وو , خو توپیر یې له نورونه داوو چې دی دهغه محدود شمیر واکدارانو په ډله کې راځی , کومو چې چوکۍ وطن ته دخدمت پخاطر کارول او نورو دشخصی ګټو اوعیش ونوش پخاطر .

## د داود خان افغانی ځیره :

دافغانی ځیری له یادولو نه می موخه د ستاینوړو ځانګړتیاوو لړلیک دی چې یو رښتینې افغان یې په درلودلو باندې ویاړی . د داود خان په اړوند داهغه څه دی چې دده دسیاسی کړو وړو سرسخت مخالفان هم ورڅخه سترګی پټولای نشی . دی یو هوډمن , زړه ور او پر وطن مین افغان وو چې شپه او ورځ یې بیله دوطن دابادی نه بل دهیڅ شي په هکله فکر نشو کولای . ده او ټولي کورنی یې یو ساده او ویاړلی ژوند درلود . د افغانی بیوزلي ټولني دترخه ژوند په غیږ کې دسلطنتی چاپیریال دغه سردار هم د لکسیت او تجمل خوړوالی له یاده ایستلي وو . دده او دکورنۍ دغړو جامی او دکور داړتیا وړ ټول سامان الات یې ساده وه چې په باطنی سپیڅلتیاسره یې پوره ښکلا ور بخښلې وه . تر وسه وسه یې زیار ایست چې دکورنۍ تولیداتو څخه خپلي اړتیاوی پوره کړی . دی او بچیان یې دهر ډول اخلاقی فساد نه چې پدغسی ټولنو کې زمامداران ترغوړونو وریکښی غرق دی , پاک او بی برخی وه . بانامو سی چې دافغانیت یوه نه شلیدونکي او ویاړلي ځانګړتیا ده , دده په کورنۍ کی ورته دتقدس په سترګه کتل کیده . د خالد پنامه دده یو ځوی زما سره دکابل پولي تخنیک په انستیتوت کی استاد وو چی دعالي اخلاقو یوه سوچه بیلګه مو باله . ده یو زوړ وړوکی فولکس واګون موټر درلود چی پخپله به پرچلو ورته ناست وو . کله ناکله چی به په تدریس ډیر مصروف وم او د انستیتوت موټر به رانه تللي وو , ده به کورته رسولم چی په شیرپور کی دده استوګنځی ته نژدی پروت وو . هیڅا دی هیڅکله هم په دولتی موټر کی یا دکوم بادی ګارډ سره ونه لید او . . . او . . .

کاشکی دغسی یو ملي مشر په ټولنه کی موجود بالقوه دموکراتیک پوتنشیال درک کړی وای او ددی پرځای چې دهغه وټکولو ته یې ملاتړلي وای , کاشکی یې پرهغه یې تکیه کړی وای او دخپلو هلو ځلو په چاروکی یې ځانته ټولنیز بنسټ ګرځولي وای او دهیواد په ابادولو کی یې تری نه په بالفعل توګه کار اخیستي وای . خو افسوس ! او زر افسوسه چې داسی ونشوه . دده ناوړی اوفرصت غوښتونکی کړی دی دهغه قوت په مقابل راوپاراوه چی دده خواخوږی نظامی ټولګیو یې دمقابلي توان ونه موند .

## داودخان ولي ووژل شو ؟

پدی اړه می د راز راز کسانو ضد او نقیض څرکندوني لوستي دی چی دمختلفو سمپاتیو او انتی پاتیو پربنسټ یې لیکلي دی . زه نغواړم اونشم کولای دتائید اویا ردولو په خاطر یې انکار نه منونکي اسناد یادخپلو سترګو لیدلي حال وړاندی کړم ځکه چی زه هغه وخت په مسکو کی وم اود ډاکتری پر تیزس باندی می کارکاوه , خوهغه څه چی می دلومړي لاس کسانو له خولي اوریدلي دی , دلوستونکو دقضاوت پخاطر یی ددوی مخ ته ایږدم :



١ - ځو ورځی وړاندی هامبورګ ته په یوه واده کی دګډون پخاطر تللي وم . هلته شیرجان مزدوریار هم راغلي وو . ده دیوی څرګندوني په ترڅ کی وویل , د ثور د اومی نیټي تازه سهار شوی وو , هغه وخت چی لا ارګ محاصره اود جمهوری ګارډ مقاومت لا بیخی پای ته نه وو رسیدلي ، دی ( مزدوریار ) اوخو تنه نور دغلام دستګیر پنجشیری په شمول دکابل راډیو په انګړ کی ولاړ وه چی دتورن اغامحمد پنامه دجمهوری ګارډ یو افسر دارګ نه راغي او ویی ویل چی زه جمهور رئیس داودخان ستاسی دپاره دیوه پیغام سره رالیږلي یم . دی غواړی دمقاومت نه لاس واخلی او له قدرت نه تیرشی . خو مخکی لدی نه غواړی چی ډګروال قادر , جګړن اسلم وطنجاراوجګړن شیرجان مزدوریار هلته ورشی او پرځینو اړوندو خبرو باندی ورسره وړغیږی . داپیغام چی دستګیرپنجسیری واوریدی , پرته له دی نه چی د ګوند دمشرتابه سره چی اوس یی دداډول موضوعګانو دڅیړلو دپاره دنورمحمد تره کی په مشرۍ یوه نظامی شورا جوړه کړی وه , سلامشوره وکړی , په قهر یی وویل چی داود بیله هغه دماتي په حال دی , ګوند نورنه غواړی دده سره بیځایه مذاکری مخ ته بوزی او تصمیم دی چي باید له منځه یوړل شی . څه ولاړشه اوهمداسی ورته ووایه . پیغام راوړونکی افسر په خواشیني ځیره بیرته ولاړ . مزدوریار زیاته کړه چی قادر او وطنجار خو داګړی حاظر نه وه ځکه چی په عملیاتو مصروف وه نو ما غوښته تنها هلته دده سره دخبرو دپاره ولاړشم , مګر پنجشیری صاحب دا اجازه رانکړه . ما ( لیکونکي ) د مزدوریار نه وپوښتل چی دستګیر پنجشیری په کوم صلاحیت تاسی لدي کار نه منع کړاست . ده راته وویل چی موږ ټول بیخوبه , سخت ستړی اوهلته دمرمیو باران وو , پنجشیری د سیاسی بیرو غړی



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

وو او دنظامی شورا له خوا ږغیدی , موږ هم نور ددی خبری دسپینولو وخت نه درلود , فکر می وکړ چی دا به ربنتیاهم دنظامی شورا فیصله وی او لدي کار نه مي ډډه وکړه خوله بده مرغه لکه څنګه چی وروسته خبر شوم , دا دده خپل شخصی نظر وو.

۲ - ترهغه ځایه چی مي په موضوع کی د دخیلو نوروکسانوهم څخه اوریدلي دی , د داودخان په هکله لدی خبری نه وړاندی د ډیر بحث وروسته نظامی شورا داسی پریکړی ته رسیدلي وه چی داود باید اوس ژوندی ترلاسه او وروسته یی په ارام وخت کی دسرنوشت په اړه تصمیم ونیول شی .

۳ - پدی اړه می دجنرال امام الدین نه په ناروې کی دتلیفون پرلیکه وپوښتل او هغه داسی راته وویل :

،، دثور د اتمی نیټي سهار وو . د ارګ ټول قوتونه مات او تسلیم شوی وه . شهنواز تنی د کوماندو د اولي ټولی قوماندان او زه یی افسر وم . ده ماته امر وکړ چی ته ولاړ شه داودخان ته په ډیره احترامانه توګه دنظامی شورا هدایت ورسوه چی تسلیم شی او وروسته به یی یو د امن ځای ته دلیږلو په هکله ترتیبات ونیسو . تني ډیر ټینګار راباندي وکړ چی باید د داود خان پوره درناوی وشی . زه هلته بی وسلي د درو نفر سربازانو سره چی دوه تنه یی مسلح وه ورغلم . هلته داود خان , عبدالاله دمالیی وزیر , عبدالقدیر دکورنیو چارو وزیر , سردار نعیم , څلور تنه نور ځلمی ځوانان چی ما نه پیژندل او یوه پیلغوټي نجلی وه . بیله سردارنعیم اونجلی نه نور ټول مسلح وه . لکه تني چی امرراته کړی وو , ماپه پوره نظامی دسپلین او درناوی هغه ته سلامي او رسم تعظیم وکړ . دسلامی په حال کی می ورته وویل چی دهیواد ټول سیاسی واک نظامی شورا پلاس کی اخیستي او زه یی موظف کړی یم چی پریکړه یی تاسی ته اعلان کړم او درته ووایم چی جمهوری ګارډ مات شویدی او ستاسی مقاومت نور بیځایه کار دی ځکه چی ګټه نه کوی , تاسی لطفاً تسلیم شی ځو یو خوندی ځای ته مو انتقال کړی . ددی خبری په اوریدو سره هغه وریږدید , تفنګچه یی مخامخ راته نیولي وه فیر کاوه چی نجلی پر را حمله کړه ، هغه فوراً فیر وکړ , نجلئ هم زخمی شوه او مرمی زما پر لاس ولګیده چی سخت یی زخمی کړم . زه له اطاق نه بهر په وینو سور ووتم . هلته نور افسران وه اوزه یی انتقال کړم . وروسته خبرشوم چی زماسره دتللو سربازانو له ډلي نه دوه تنه یی ځای پرځای هم هلته ددوی په ډزو سره مړه شوی وه او یویی سخت زخمی چی یوه میاشت وروسته په روغتون کی مړ شو. نور زه خبر نه یم چی په ارګ کی دپیښو جریان څنګه مخ ته تللي دی ،، .

٤ - شیرجان مزدوریار داهم وویل چی تره کی صاحب د داود خان د مرګ په اوریدو باندی سخته خواشیني ونبوده او ویلي یی وه چی کاشکی داسی نه وای شوی .

دلوړو څرګندونو څخه داسی معلومیږی چی داود خان اوپه ارګ کی نورکسان د جنګ په متقابلو ډزو سره وژل شوی دی . نوآیا ددغه کار مخنیوئ شونی وو که نه ؟ زمان په ګمان که چیری ښاغلي دستګیر پنجشیری ارګ ته د داود خان سره دمذاکرو پخاطر دمزدوریار او وطنجار د ورتګ مخنیوی نه وای کړی ، دغه غمجنه واقعه به نه وای پیښه شوی .

- پدی هیله په نورپه هیواد کی دلګیدلي اور لمبي هرڅه ژر مړی شي .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de